مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحیدوحید ۲۰۲۶/۱۰/۲۲

**نا امني، بېرنی حالت او معدني زېرمې:**

# له ډیورنډ کرښې څخه هاخوا رامنځته کېدونکي ننګونې

د پاکستان امنیتي دوکتورین له افغانستان څخه وروسته په خیبرپښتونخوا کې هم له ژورو ننګونو او ګواښونو سره مخ دی. د پاکستان د امنیتي ځواکونو له خوا لسیزو پوځي عملیاتو سره سره لا هم په دغه هېواد کې د وسلوالو ډلو شتون او نا امني، د تلپاتې ثبات په رامنځته کولو کې د تاکتیکي برياوو محدودیتونه او د امنیتي ځواکونو بېوسي په ډاګه کوي. اوس د یوه فرمان له مخې د ولس لخوا ټاکل شوي ایالتي حکومت ځنډول او د ګورنر راج (د والي واکمني) لګولو په اړه د اسلاماباد پرېکړه دغو اوږدمهالو امنیتي ننګونو ته نوی رنګ او نیرنګ ور زیاتوي. د ترهګرۍ د ریښو ختمولو په هکله د د اوږدمهاله حل رامنځته کولو پر ځای، په پښتونخواه کې د مرکز واک پیاوړی کول به یقیناً د ځایي ولسونو نارضایتونه او شکایتونه لا پسي ژور کړي، په ځانګړې ډول د لوړ ارزښت درلودونکو معدني زېرمو په برخه کې تازه رامنځته شوی صورت حال به ایالتي خپلواکي نوره هم کمزوري کړي.

د سیمي تاریخي تجربې څرګندوي چې یوازې د نظامي ځواک په کارولو او له پورته څخه ښکته مدیریتي کنټرول باندې تکیه کول، د ملکي وګړو زیانونو او ځوروني زیاتوي، ولسي باور له منځه وړي او په سیمه کې لا دمخه شته واټنونه نور هم ژوروي. تلپاتې ثبات د بېړني حالت د نافذولو له فرمانونو یا هم د جنګي عملیاتو له چټکتیا څخه ورهاخوا نورو بنسټیزو ګامونو پورته کولو ته اړتیا لري. امنیتي اړتیاوې پوره کول اعتدالي فکر ته د ودې ورکولو او د ټولنیز-اقتصادي محرومیتونو د له منځه وړلو په موخه د اغیزمنو ګامونو پورته کولو ته اړتیا لری. کله چې قانوني بهیر له خنډونو سره مخ کېږي او فوق‌العاده ګامونه پورته کول د ټاکل شوو بنسټونو ځای ونیسي، نو چارواکي باید په عامه امنیت کې د پام وړ او ملموس پرمختګ رامنځ ته کول ثابت او د ولسي ټاکنو له مخې رامنځته شوی ملکي حکومت د بېرته فعالولو لپاره روښانه او باوري لاره باوري کړي.

د پاکستان په حکومتولي، د کانونو په استخراج او پراختیا او له بهرنیو اړخونو سره د شراکتونو له امله رامنځته شوي بدلونونه کولای شي په افغانستان باندې هم مهمې سیمه‌ییزې اغېزې ولري. په وچه کې د ایسار هېواد په توګه، افغانستان سیمه‌ییزو ټرانزیټي لارو او متنوع سوداګریزو دهلېزونو ته په باوري لاسرسي پورې تړلی دی. د اوږدمهاله او شفاف مدیریت د افغانستان معدني شتمنۍ هم د اوږدمهاله او شفاف مدیریت په درلودلو د پرمختګونو لپاره خورا لوړ ظرفیت لري. له همدې امله، کابل باید دغه سیمه‌ییز بدلونونه په پوره ځیرکتیا سره وڅېړي، په پانګونو او زېربناوو کې خپلې ملي ګټې له ورټوله څخه تنظیم او قانوني شکل ورکړي، خپل اقتصادي شراکتونه پراخ او متنوع کړي، د سیمه‌ییزې سوداګرۍ او اتصال په ډګر کې د افغانستان د رول د پیاوړتیا تر څنګ خپله ستراتیژیکه خپلواکي هم وساتي.

په پاکستان کې رامنځته شوي بدلونونه کولای شي سیمه‌ییز ثبات ته له نوي سره بڼه ورکړي. بناً افغانستان اړ دی چې له دوديزو جیوپولیټیکي اټکلونو څخه ورهاخوا له دربېو بنسټیزو عواملو سره د مخامخ هېواد په توګه وڅېړي چې په پښتونخوا کې سیاسي مانورونه څنګه د طبیعي زېرمو په تړاو پرېکړو کې د خلکو د حقونو د خنډيې ته کولو لپاره کارول کېږي. د پښتونخوا عیني او تراخه واقعیتونه، او دا چې په تاریخي ډول کابل د ډیورنډ کرښه یو مشروع سرحد نه، بلکې د بریتانوي ښکېلاک لخوا د افغان وطن ناروا وېش ګڼي.

له پورته یاد شوي پېچلي سیمه‌ییز چاپېریال څخه د وتلو لپاره، کابل باید د خپلو طبیعي زېرمو په تړاو له مسلکي، مدبرانه او هوښیارانه مدیریت څخه پیل او روښانه ستراتیژیک لومړیتوبونه تعقیب کړي. افغانستان اړتیا لري چې د خپلو را ایستل کېدونکو معدني زیرمو لپاره شفاف، باوري او څرګند قانوني چوکاټونه رامنځته کړي. د مسؤولانه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

بهرنۍ پانګوني راجلبول او په ورته وخت کې د فساد او لوټ مخنيوی، د رائلټي (حق الامتياز) لپاره د شفافو جوړښتونو، پياوړی چاپيريالي څار او په کور دننه د پروسس کولو په برخه کې د الزاميت غوښتنه کوي، ترڅو د خامو معدني توکو په صادراتو باندي د اوږدمهاله تکيې پر ځای، خپلواک ملي او توليدي ظرفيت رامنځته شي.

له دې سره په همهماله توګه، افغانستان بايد د ځمکنيو واقعيتونو پر بنسټ خپلو وړتياوو او شرايطو ته په کتو، له پاکستان سره د اړيکو د عادي کولو لپاره تر خپله وسه هڅه وکړي، په سيمه کې د اوږدمهاله نيابتي تګلارو له کاپي او تکرار څخه ډډه وکړي، په يوه دهليز باندې د متکي کيدو له امله د رامنځته کيدونکو زيانونو د مخنيوي په موخه د خپلو ټرانزيټي او سوداګريزو لارو تنوع ته چټکتيا ورکړي. له مرکزي اسيا سره د رېل پټلۍ او سړکونو له لارې د نښلولو پراختيا، د ايران د چابهار او بندر عباس بندرونو ته د لاسرسي پراخول، او د واخان دهلېز له لارې له چين سره په مستقيم ډول د زيربنايي نښلونو د اوږدمهاله عملي کېدو څېړل، د اقتصادي پرمختګ لپاره حياتي ګامونه ګڼل کيږي. دغو بديلو لارو ته بايد له پاکستان سره د تاريخي سوداګرۍ د بشپړ بديل په سترګه ونه کتل شي، بلکې دا هغه لازم او بشپړوونکي چينلونه دي چې افغانستان ته حياتي ځواک او لوژستيکي انډوليزه وړتيا ور بښي.

په پای کې، د کابل بهرنۍ تګلاره بايد په عمل پاله (پراګماټيک) او څو اړخيزې تګلارې باندي ولاړه وي، چې له سيمه‌ييزو او نړيوالو لوبغاړو، لکه امريکا، چين، روسيې، ايران، پاکستان او د مرکزي اسيا له هېوادونو سره تعامل يوازې او يوازې د خپلو ملي ګټو په رڼا کې تنظيم کړي. له ايډيالوژيکو بنديزونو او ښکېلتياوو او يوازې پر يوه قدرت له انحصاري تکيې څخه ډډه کول دا تضمينوي چې افغانستان د زبرځواکونو ترمنځ د زياتېدونکو سياليو په منځ کې خپل انډوليز انعطاف خوندي وساتي. د اداري سمون او ملي يووالي په پياوړتيا، د سوداګريزو لارو په تنوع، او د خپلو طبيعي شتمنيو په مسئوولانه مديريت سره، افغانستان کولای شي ځان د بهرنيو رقابتونو له انفعالي ډګر څخه وژغوري، د سيمه‌ييزې سوداګرې او سوله ييز ګډ ژوند لپاره له انفعالي حالت څخه د يوه فعال اړين، خپلواک او حياتي پله په توګه ثابت کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ